# سیمه اییزه خلکو خپلی هیلي په خلیلي پوری تړلي دي

**Author:** Abdul Wali

د بامیانو خلک پر سیمه اییزه جنګ سالار کریم خلیلي چی اوس د ولس مشر مرستیال دی د خپل ژوندانه په بیلا بیلو اړخونو کی د ښه والي د راوستو له پاره حساب کوي.

د بامیانو د ولایت اوسیدونکي، چی د هیواد یو له ډیرو بی برخو او محرومو سیمو څخه دی هیله لري د دوی د مشر دا پریکړه چی په کابل حکومتی دنده اشغال کړي ، ښایي د دی سبب شي چی په سیمه اییزه شرایطو کی ښه والی راشي.

دوی په دی باور دي د حزب وحدت مشر کریم خلیلي، چی په دی وروستیو کی په انتقالي اداره کی د ولس مشر مرستیال شو دغی سیمی ته به د لا زیاتو پیسو او سرچینو د رالیږلږلو خبره یقیني کړي.

خلیلي چی یو له لومړیو جنګ سالارانو دی چی د کرزي په کابینه کی انتخاب شوی په هزاره جاتو کی چی د هغه مرکز دی او د بامیانو ولایت د هغو ولسوالیو څخه ده چی ډیری پکښی هزاره ګان دي په دی وروستیو کی د ده په راستنیدو سره د نژدی ۲۰۰۰ خلکو له خوا ورته ښه راغلاست ویل شوی.

هغه د سیمی خلکو ته وویل چی له ده څخه ډیره طمع و نه کړي او زیاته یي کړه چی د افغانستان بیارغونه یوه اوږده مبارزه ده ځکه ډیری سیمی د بامیانو څخه هم په بد حالت کی دي.

هغه وویل کابل ته له تلو وړاندی ما داسی ګومان کاوه چی هزاره ګان د افغانستان ډیر خوار، بی وزلي او بدهرغه خلک دي، خو پلازمینی ته د ورتګ وروسته په دی وپوهیدم چی د هیواد په ګوټ کوټ کی ستونځی ډیری دي.

خلیلي یو له هغو جنګ سالارانو دی چی په کابل کی د دندی په تر سره کولو یي موافقه کړی. نورو بیا د هیواد په لویدیځ کی د هرات د والي اسماعیل خان او جنرال دوستم په شان چی شمالي سیمی تر خپلی ولکی لاندی لري په حکومت کی د دندو د اخیستو وړاندیزونه یي رد کړي دي.

پلازمینی ته په راوستو او هغوی ته په نوي حکومت کی د ونډی په ورکولو داسی ښکاري چی کرزي هڅه کوي د ډلو تر منځ د جګړی خطر له منځه یوسي.

خو د ولس مشر له پاره دا ګرانه ده چی سیمه اییزه مشران وهڅوي چی د خپلی ولکی لاندی سیمو څخه پلازمینی ته راشي ځکه د ختیځ ولایت جنګ سالار حاجی عبدالقدیر چی د ولس مشر له مرستیالانو څخه یو وو په دی وروستیو کی ووژل شو او له دی امله نور پلازمینی ته د تلو له ډیر احتیاط څخه کار اخلي. که څه هم دغه دلیل د خلیلي د تلو مخه نه ده نیولی.

خلیلي چی پوځي سړی دی، یو وخت د حزب وحدت چی د هزاره ګانو لوی ګوند دی د مشر مرستیال وو. هغه په ۱۹۹۵ کال کی له هغی وروسته واکمن شو چی طالبانو د دغه ګوند مشر عبدالعلي مزاري وواژه.

ډیر سیمه اییز خلک په دی هیله دي چی خلیلي به د خپل نوي موقف په کارولو د سیمی له پاره لا زیات ملاتړ تر لاسه کړي. د بامیان یوه اوسیدونکي حسین بخش وویل: موږ غواړو چی هغه خپلی ټولی هلی ځلی پر بیارغونی متمرکزی کړي او د واکمنو پام د بامیانو ولایت ته ورواړوي.

په عین حال کی د سیمی پوځي خلک ډاډمن دي چی په حکومت کی د خلیلي حضور به د کهمرد د په سیمه کی د ډله اییزه جګړی په له منځه وړلو کی مرسته وکړي ځکه هلته د حزب وحدت جنګیالي د جمعیت اسلامي ډلی له جنګیالیو سره نښتی کوي.

دوی په دی باور دي چی خلیلي او د دفاع وزیر محمد فهیم قسیم چی د جمعیت وتلی قومندان دی دواړه به سره په ګډه د سیمه اییزه

جګړې د مخنیوي له پاره هڅه وکړي. د بامیانو ولایت دپوځي چارو قوماندان باز محمد جوهري IWPR ته وویل مور هیله لرو چې د خلیلي او فهیم لیدنې به د کهمرد ستونځې حل کړي.

په کابل کې د دفاع وزارت له خوا لادمخه داسې پلانونه شته چې سیالې ډلې په یوه سیمه اییز ځواک کې سره یوځای کړي چې تفصیلات به یي وروسته اعلان شي.

جوهري چې د بامیانو په ولایت کې ٤٠٠٠ کسان تر خپلې قوندې لاندې لري د کابل له خوا په دغه ولایت کې د پوځي چارو د سمبالولو په اړه د لارښوونې او خبرو په هکله څه ستوځې نه لري.

هغه وویل د بامیانو په ولایت د عسکرو د کنترولو په برخه کې یوازینې توپیر دا دی چې پخوا پوځي او لوژستیکي اړتیاوې د وحدت ګوند له خوا پوره کیدې او اوس د ملي دفاع وزارت دا دنده تر سره کوي.

عبدالولي او سید معروف په کابل کې میشت خپلواک خبریالان دي.

**Location:** Afghanistan
**Topic:** Bamyan Special

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%B3%D9%8A%D9%85%D9%87-%D8%A7%D9%8A%D9%8A%D8%B2%D9%87-%D8%AE%D9%84%DA%A9%D9%88-%D8%AE%D9%BE%D9%84%D9%89-%D9%87%D9%8A%D9%84%D9%8A-%D9%BE%D9%87-%D8%AE%D9%84%D9%8A%D9%84%D9%8A-%D9%BE%D9%88%D8%B1%D9%89-%D8%AA%DA%93%D9%84%D9%8A-%D8%AF%D9%8A